# تسالونیکیانو ته د پولوس رسول لومړی لیک

د کتاب پېژندنه

پولوس رسول دا لیک د تسالونیکې کلیسا ته شاوخوا ۵۱ میلادي کې ولیکه. تسالونیکیه لا تراوسه هم د یونان په مقدونیه کې یو مهم بندر او سوداګریز ښار دی. پولوس په دې ښار کې د عیسی مسیح زېری خپور کړ او د بشریت خلاصوونکی یعنې عیسی مسیح یې خلکو ته وروپېژانده. د یهودیانو ځینې مشرانو په دې ښار کې ولیدل چې ډېرو غیریهودیانو چې د یهودیت د دین سره یې مینه لرله د پولوس په پیغام باندې ایمان راوړ. نو له دې امله دغو یهودي مشرانو د پولوس په نفوذ او اثر باندې بخیلي وکړه او هغه یې مجبور کړ چې د تسالونیکې ښار پرېږدي او لاړ شي. دا نوي ایمانداران چې د تسالونیکې په ښار کې پاتې شول، د ډېرو ستونزو او ځورونو سره سره بیاهم په خپل ایمان کې ټینګ پاتې شول او پرمختګ یې وکړ.

په دې لیک کې او همدارنګه په دوهم لیک کې چې د تسالونیکې کلیسا ته یې لیکلی ؤ، اصلي موضوع دا ده چې ایمانداران باید په عیسی مسیح کې خپل ژوند څنګه تېر کړي. هغوی باید داسې ژوند وکړي چې خدای ورڅخه خوشحاله او راضي وي. هغوی باید یو د بل سره په مینه او محبت سره ژوند وکړي او د ټولو خلکو سره نېکي او ښېګڼه وکړي. هغوی باید په خپلو ټولو اړیکو کې د اخلاقو څخه ډک ژوند ولري. که د ایماندارانو ژوند د کړاوونو او ځورونو څخه ډک هم وي، هغوی باید وفاداره او ټینګ پاتې شي، ترڅو د ژوند دا تجربې هغوی د دې وړ وګرځوي چې د خدای خلک اوسي.

د دې لیکونو بله اصلي او مهمه موضوع د عیسی مسیح بیا راتلل دی. دا راتګ چې وخت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې هېڅ‌چا ته معلوم نه دی، خو هغه حتمي راځي او باید ورته په تمه اوسو. کله چې دا کار وشي نو حتی مړي به بیا راژوندي شي چې د عیسی مسیح سره بېرته راشي او د خدای په حضور کې به ژوند وکړي. هغې ورځې ته انتظار ویستل باید د بېکارۍ او د دې سبب نه شي چې د ژوند مسوولیتونه له پامه وغورځول شي، بلکې هغه د دې سبب شي چې ایمانداران دې ته وهڅول شي چې خپل ژوند د کړاوونو او تکلیفونو سره سره په هیله‌مندۍ سره تېر کړي او د ټولو خلکو سره نېکي وکړي.

## د موضوعګانو لست:

سلامونه: ۱:۱

شکرګزاري، ثنا او صفت: ۱:۲ – ۳:۱۳

د مسیحي چال چلند په هکله نصیحت: ۴:۱-۱۲

د څښتن عیسی په بېرته راتللو سره ایمانداران راژوندي کیږي: ۴:۱۳ – ۵:۱۱

وروستنۍ خبرې: ۵:۲۳-۲۸



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# سلامونه

۱ ۞ دا لیک د پولوس، سیلاس او تیموتاوس له خوا د تسالونیکیانو کلیسا ته دی چې د پلار
خدای او ښښتن عیسی مسیح کلیسا ده. فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## په تسالونیکیه کې د مسیحیانو ژوند او ایمان

۲ مونږ تل ستاسو ټولو دپاره د خدای شکر کوو او تل مو په خپلو دعاګانو کې یادوو. ۳ کله
چې مونږ ستاسو دپاره خپل خدای ته چې زمونږ اسماني پلار دی دعا کوو، نو ستاسو عمل چې د
ایمان څخه پیدا کیږي، لکه څنګه چې تاسو په مینه زیار وباسئ او ستاسو د صبر او زغم هیله چې
زمونږ په ښښتن عیسی مسیح کې پیدا کیږي، یادوو.

۴ ای خویندو او ورونو! مونږ پوهیږو چې تاسو په خدای ګران یئ او تاسو یې غوره کړي یئ.
۵ ځکه هغه زیری چې مونږ تاسو ته دررساوه، هغه یوازې په خبرو کې نه بلکې د روح القدس
د قدرت او د هغه په ربښتینولی باندې په پوره باور لرلو سره ؤ. تاسو پوهیږئ کله چې مونږ ستاسو
سره وو او هر کار چې مونږ وکړ، هغه ستاسو په خیر ؤ. ۶ تاسو زمونږ او زمونږ د ښښتن عیسی د
مثال څخه پیروي وکړه او سره له دې چې د هغه د پیغام په خاطر مو ډېر تکلیفونه ولیدل، خو هغه مو
په هغې خوشحالی سره چې د روح القدس له خوا ورکول کیږي، قبول کړ. ۷ په دې ډول تاسو په
ټول یونان یعنې مقدونیه او جنوبي یونان کې د ټولو ایماندارانو دپاره یو مثال شوئ. ۸ ځکه نه
یوازې دا چې د ښښتن عیسی پیغام ستاسو له خوا په مقدونیه او جنوبي یونان کې خپور شو، بلکې په
خدای باندې ستاسو د ایمان په هکله خبر هرځای ته ورسېده. نو لازمه نه ده چې په دې هکله څه
ووایو. ۹ ځکه چې هغوی خپله د هغه تود هرکلي په هکله خبرې کوي چې تاسو زمونږ څخه
وکړ او دا چې څنګه مو بت‌پرستي پرېښودله او خدای ته راوګرځېدلئ، ترڅو د ژوندي او ربښتیني
خدای خدمت وکړئ. ۱۰ او د اسمان څخه د خدای د زوی یعنې عیسی د راتللو انتظار کوئ چې
خدای د مړو څخه راژوندی کړ او دا هغه ښوک دی چې مونږ به د راتلونکي غضب څخه ژغوري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په تسالونيکيه کې د پولوس کار او خدمت

۲ ﴿۱﴾ ای خويندو او ورونو! تاسو خپله پوهېږئ چې تاسو ته زمونږ راتلل بې‌ګټې نه وو. ﴿۲﴾
لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ چې په فيليپي کې زمونږ سره بد چلند شوی ؤ او سپکاوی مو شوی ؤ،
خو د سختو مخالفتونو سره سره خدای مونږ ته جرات راکړ چې د هغه زېری تاسو ته دررسوو.
﴿۳﴾ ځکه چې ستاسو څخه زمونږ غوښتنه د کوم غلط او ناپاکه نيت له مخې نه ده او نه د چا د
غولولو هڅه کوو. ﴿۴﴾ بلکې مونږ د هغو کسانو په توګه خبرې کوو چې خدای د دې دپاره وړ وګڼل
چې زېری راته وسپاري. نو مونږ د انسانانو د خوشحالولو هڅه نه کوو، بلکې د هغه خدای د
خوشحالولو هڅه کوو چې زمونږ زړونه ازمايي. ﴿۵﴾ تاسو پوهېږئ چې مونږ هېڅکله چاته
غوړه‌مالي نه ده کړې او خدای زمونږ شاهد دی چې زمونږ خبرې د حرص له مخې نه وې. ﴿۶﴾
مونږ د هېچا څخه نه دې غوښتي چې زمونږ صفت وکړي، نه ستاسو څخه او نه هم د نورو څخه،
﴿۷﴾ که څه هم مونږ کولای شول چې د مسيح د رسولانو په توګه ستاسو څخه کومه غوښتنه وکړو.
خو مونږ ستاسو په منځ کې د داسې نرمۍ څخه کار واخيست لکه يوه مور چې په خپل تې رودونکي
ماشوم باندې پام کوي. ﴿۸﴾ مونږ ستاسو سره دومره مينه وکړه چې نه يوازې دا چې د خدای زېری
تاسو ته دررسوو، بلکې دې ته تيار وو چې ستاسو دپاره د خپلو ځانونو څخه هم تېر شو، ځکه چې
تاسو په مونږ باندې ډېر ګران وئ.

﴿۹﴾ ای خويندو او ورونو! تاسو ته په يادې دې چې مونږ به شپه او ورځ کار کاوه او زحمت به مو
ويسته، ترڅو تاسو ته د خدای د زېري اورولو په وخت کې په تاسو کې په هېچا باندې بار ونه اوسو.
﴿۱۰﴾ تاسو خپله شاهدان يئ او خدای هم شاهد دی چې زمونږ چلند تاسو ايماندارانو سره څنګه
پاک، صادقانه او سم ؤ. ﴿۱۱﴾ تاسو پوهېږئ چې مونږ تاسو هر يو سره داسې چلند کړی دی لکه
څنګه چې يو پلار يې د خپلو اولادونو سره کوي. ﴿۱۲﴾ مونږ به ستاسو څخه غوښتنه کوله او تاسو به
مو هڅولئ او ټينګار به مو کاوه، ترڅو داسې ژوند وکړئ چې خدای ته د منلو وړ وي، ځکه چې هغه
تاسو ته بلنه درکوي چې د هغه په پاچاهۍ او جلال کې شريک شئ.

﴿۱۳﴾ نو مونږ د دې دپاره هم تل د خدای شکر کوو چې کله تاسو د خدای کلام زمونږ د خولې څخه
واورېد، نو هغه مو د انسان د کلام په توګه نه بلکې د خدای د کلام په توګه قبول کړ، چې په رښتيا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم همداسي ده، او دا کلام اوس په تاسو ايمانداررانو کې کار کوي. ۱۴ ای خويندو او ورونو! ستاسو
سره هغه څه وشول لکه څنګه چې په يهوديه کې د خدای د کليساګانو سره چې د عيسی مسيح سره
تړاو لري وشول، ځکه چې تاسو د خپلو وطندارانو له خوا هماغه تکليفونه وليدل چې هغوی د
يهوديانو له خوا ليدلي وو، ۱۵ يعني هغو يهوديانو چې هم يې څښتن عيسی او هم يې پيغمبران
ووژل او مونږ يې هم وشړلو. هغوی هم خدای خفه کوي او هم د ټولو انسانانو سره دښمني کوي.
۱۶ هغوی کوښښ وکړ چې مونږ پرېنږدي چې غيريهوديانو ته هغه پيغام ورسوو چې د هغوی د
خلاصون سبب کيږي. هغوی په دې کار خپل ګناهونه وروستني حد ته رسوي. خو په پای کې به
هغوی د خدای په غضب اخته شي.

## پولوس غواړي چې يوځل بيا د تسالونيکيانو سره ووينې

۱۷ خويندو او ورونو! کله چې مونږ ستاسو نه د لږ وخت دپاره بېل کړای شوي وو، بې له شکه نه
په جسماني توګه بلکې د زړه څخه مو په ډېر شوق سره کوښښ وکړ چې يوځل بيا تاسو ووينو. ۱۸
ځکه چې مونږ غوښتل ستاسو خواته راشو او ما پولوس څو څو ځلې کوښښ وکړ چې راشم، خو
شيطان زمونږ مخه ونيوله. ۱۹ خو کله چې زمونږ څښتن عيسی بېرته راځي، نو د هغه په حضور
کې به زمونږ دپاره کومه هيله، خوشحالي او د وياړ تاج وي؟ ايا هغه تاسو نه يئ؟ ۲۰ په رښتيا چې
تاسو زمونږ وياړ او خوشحالي يئ.

۳ ۱ ځرنګه چې مونږ نور ستاسو لېرېوالی ونه شو زغملی، نو پرېکړه مو وکړه چې د آتن په
ښار کې پاتې شو. ۲ نو مونږ خپل ورور تيموتاوس چې د مسيح د زېري په خپرولو کې د خدای
همکار دی درولېږه، ترڅو تاسو قوي کړي او تشويق مو کړي چې په خپل ايمان کې ټينګ اوسئ
۳ ترڅو په تاسو کې هېڅوک د دې تکليفونو له امله خپل ايمان له لاسه ورنه کړي. تاسو پوهېږئ
چې دا تکليفونه زمونږ په قسمت او تقدير کې ليکل شوي دي. ۴ ځکه کله چې مونږ ستاسو سره
وو، نو له مخکې نه مو درته ووېل چې مونږ ټول به وځورول شو او لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ
همداسې وشول. ۵ نو له دې امله چې دا مې نور نه شو زغملی نو تيموتاوس مې درولېږه، ترڅو
دا معلومه کړي چې تاسو په ايمان کې ټينګ پاتې يئ که نه. ځکه زه وېرېدم هسې نه چې شيطان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو وسوسه کړي اوسئ او زمونږ خواري بېځايه تللې وي.

۶ خو اوس تيموتاوس ستاسو نه بېرته مونږ ته راغی او ستاسو د ايمان او مينې په هکله يې مونږ ته ښه خبر راوړ. هغه وويل چې تاسو تل مونږ په خوشحالی سره يادوئ او لکه څنګه چې مونږ ستاسو د ليدلو په ارمان يو، تاسو هم زمونږ د ليدلو په ارمان يئ. ۷ نو ای خويندو او ورونو! سره له دې ستونزو او کړاوونو چې مونږ وليدل، مونږ ته تسلي پيدا شوه، ځکه چې تاسو په خپل ايمان کې ټينګ پاتې يئ. ۸ په دې باندې زمونږ روح تازه شو، ځکه چې تاسو په ښبنتن عيسی باندې ټينګ ايمان لرئ. ۹ نو بيا مونږ د هغو خوشحاليو دپاره چې ستاسو په خاطر يې لرو، د خدای په حضور کې څومره شکرګزاري وکړو. ۱۰ مونږ شپه او ورځ له زړه له کومې دعا کوو چې يوځل بيا تاسو ووينو او هغه کمی چې ستاسو په ايمان کې موجود دی، هغه پوره کړو.

۱۱ اوس دې زمونږ پلار خدای او زمونږ ښبنتن عيسی خپله مونږ ته لاره ونبايي چې تاسو ته درشو. ۱۲ ښبنتن دې ستاسو مينه يو د بله او ټولو خلکو سره ډېره زياته کړي، دومره زياته لکه څنګه چې مونږ يې تاسو سره لرو. ۱۳ کله چې زمونږ ښبنتن عيسی د خپلو ټولو سپېڅلو خلکو سره راځي او تاسو د خدای يعني زمونږ اسماني پلار په حضور کې ودرېږئ، نو هغه دې ستاسو زړونه قوي، پاک او بې‌عيبه کړي.

## د مسيحي چال چلند په هکله نصيحت

**۴** ۱ اخر دا چې ای خويندو او ورونو! مونږ تاسو ته زده کړل چې څنګه ژوند بايد وکړئ ترڅو خدای خوشحاله کړئ، لکه څنګه چې اوس يې کوئ. مونږ د ښبنتن عيسی په نوم تاسو ته سوال کوو او په کلکه درخخه غواړو چې نور هم همداسې کوئ. ۲ ځکه چې تاسو پوهېږئ کومې لاربنوونې چې مونږ تاسو ته وکړې هغه د ښبنتن عيسی له خوا وې. ۳ د خدای اراده دا ده چې تاسو پاک او سپېڅلي اوسئ او د بل چا سره د جنسي بداخلاقيو نه ځان لرې وساتئ. ۴ تاسو هر يو بايد پوه شئ چې څنګه خپل بدن په خپل اختيار کې وساتئ او هغه پاک او عزتمن وساتئ. ۵ نه د هغو بې‌دينه خلکو په شان چې خدای نه پېژني او په نفساني غوښتنو کې راګېر شئ. ۶ هېڅوک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي په دي موضوع کي د خپلو مسيحي ورونو عزت ته په بده سترګه نه ګوري او د هغوی څخه دي غلطه ګټه نه اخلي. لکه څنګه چي مونږ مخکي تاسو ته وويل او خبرداری مو درکړ چي څښتن به هغو ټولو کسانو ته چي داسي کارونه کوي، سزا ورکړي. ⑦ خدای مونږ د دي دپاره نه يو رابللي چي خپل ژوند په بداخلاقۍ کي تېر کړو، بلکي پاک او سپېڅلی ژوند وکړو. ⑧ نو بيا هرڅوک چي دا تعليم نه مني، هغه انسان نه بلکي هغه خدای نه مني چي تاسو ته يي خپل روح القدس درکړی دی.

⑨ نو بيا مونږ ته د دي اړتيا نشته چي تاسو ايماندارانو ته يو د بل سره د مينې کولو په هکله کوم شی وليکو، ځکه چي خدای خپله تاسو ته تعليم درکړی دی چي يو د بل سره مينه وکړئ. ⑩ په حقيقت کي تاسو په ټوله مقدونيه کي د ټولو ايماندارانو سره مينه کوئ. خو ای خويندو او ورونو! مونږ ستاسو نه غواړو چي خپله مينه نوره هم زياته کړئ. ⑪ او ستاسو مقصد دي دا وي چي سوله‌ييز ژوند ولرئ، په خپلو کارونو کي بوخت اوسئ او په خپلو لاسونو د خپل ژوند اړتياوي پوره کړئ، لکه څنګه چي مونږ تاسو ته تعليم درکړی دی. ⑫ نو په دي ډول به غيرايمانداران ستاسو درناوی کوي او هېچا ته به محتاج نه اوسئ.

## د څښتن عيسی په بېرته راتللو سره ايمانداران راژوندي کېږي

⑬ ای خويندو او ورونو! مونږ نه غواړو تاسي د هغو ايماندارانو په هکله بې‌خبره پاتي شئ چي مړه شوي دي، ترڅو د هغو خلکو په شان غمجن نه شئ چي د بيا راژوندي کېدلو هېڅ هيله نه لري. ⑭ څرنګه چي مونږ په دي ايمان لرو چي عيسی مړ شو او بيا راژوندی شو، نو په دي هم ايمان لرو چي خدای به هغه ټول کسان چي په عيسی باندي يي ايمان درلود او مړه شوي دي، د عيسی سره بېرته بوځي. ⑮ مونږ دا خبره د څښتن عيسی مسيح له خوا تاسو ته کوو: مونږ چي د هغه د راتګ پوري ژوندي پاتي کېږو، نو کوم کسان چي مړه شوي دي، د هغوی څخه مخکي به د څښتن عيسی سره ونه ګورو. ⑯ ځکه کله چي څښتن عيسی په خپله د اسمان نه رابنکته شي، نو خلک به د هغه د حکم لوړ اواز، د فرښتو د مشر اواز او د اسماني سرني اواز واوري، نو اول به هغه خلک راژوندي شي چي په مسيح باندي يي ايمان راوړی ؤ. ⑰ نو بيا به مونږ ټول چي ژوندي پاتي يو، د هغوی سره يوځای په ورېځو کي پورته يووړل شو چي په اسمان کي د څښتن عيسی سره ليدنه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو، نو په دې ډول به مونږ ټول تل ترتله د هغه سره اوسو. ⑱ نو بیا په دې خبرو یو بل ته تسلي ورکوئ.

## د عیسی مسیح بېرته راتللو ته تیاری نیول

**۵** ① ای خویندو او ورونو! اړتیا نشته چې مونږ تاسو ته ولیکو چې څنګه او کله به دا هرڅه پېښیږي، ② تاسو ښه پوهېږئ چې د څښتن ورځ به د هغه غله په شان وي چې د شپې راځي. ③ کله چې خلک وايي چې سوله او امنیت دی، نو ناڅاپه به په هغوی باندې داسې مصیبت راشي لکه څنګه چې په امیدوارې ښځې باندې د ماشوم د پیدا کېدلو درد راځي او هغوی به تښتېدلی نه شي. ④ خو ای خویندو او ورونو! تاسو په تیاره کې ژوند نه کوئ چې هغه ورځ به تاسو د غل د راتللو په شان حیران کړي. ⑤ ځکه چې تاسو ټول د رڼا او د ورځې اولادونه یئ. مونږ د تیارې او شپې خلک نه یو. ⑥ نو بیا راځئ چې د نورو په شان ویده پاتې نه شو، بلکې ویښ او هوښیار اوسو. ⑦ ځکه چې خلک د شپې ویده کیږي او د شپې نشه کیږي. ⑧ خو څرنګه چې مونږ په رڼا کې ژوند کوو، نو راځئ چې هوښیار اوسو. مونږ باید ایمان او مینه لکه د زغرو د کالیو په شان واغوندو. زمونږ د خلاصون هیله دې د زغرو د خولۍ په شان وي. ⑨ ځکه چې خدای مونږ د دې دپاره نه یو غوره کړي چې خپل غضب په مونږ نازل کړي، بلکې د دې دپاره چې مونږ د خپل څښتن عیسی مسیح په وسیله خلاصون پیدا کړو. ⑩ هغه زمونږ دپاره مړ شو، ترڅو کله چې هغه بېرته راځي، که مونږ مړه یو یا ژوندي یو، وکولای شو د هغه سره یوځای ژوند وکړو. ⑪ نو بیا تاسو یو بل وهڅوئ او قوي کړئ لکه څنګه چې اوس یې کوئ.

## وروستنی لارښووني او سلامونه

⑫ ای خویندو او ورونو! ستاسو نه غوښتنه کوو چې د هغو خلکو درناوی کوئ چې په تاسو کې زیار وباسي او د څښتن په کار کې تاسو ته لارښوونه او نصیحت کوي. ⑬ د هغه کار له امله چې هغوی یې کوي، په مینه د هغوی ډېر عزت کوئ او یو د بله سره په سوله کې ژوند کوئ. ⑭ ای خویندو او ورونو! مونږ ستاسو څخه غواړو چې لټانو او بېکاره خلکو ته نصیحت کوئ، بېزړه خلک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تشویق کوئ، د کمزورو خلکو سره مرسته کوئ او د هغوی ټولو سره د صبر څخه کار اخلئ. ۱۵
ګورئ، په تاسو کې دې هېڅوک د هېچا سره د بدو په بدل کې بدي نه کوي، بلکې کوښښ کوئ چې
تل یو د بل سره او د ټولو خلکو سره نېکي وکړئ. ۱۶ تل خوشحاله اوسئ. ۱۷ هر وخت دعا
کوئ. ۱۸ په هر حال کې د خدای شکر کوئ، ځکه چې دا ستاسو دپاره چې د عیسی مسیح سره
تړاو لرئ، د خدای رضا ده. ۱۹ د روح القدس د کار مخه مه نیسئ. ۲۰ د پیغمبرانو کلام ته په
سپکه سترګه مه ګورئ، ۲۱ بلکې هرڅه وازمایئ او کوم څه چې ښه وي په هغه باندې عمل وکړئ.
۲۲ د هر ډول بدیو نه ځان لېرې ساتئ.

۲۳ خدای چې د سولې او سلامتی سرچینه ده، هغه دې تاسو په پوره توګه پاک کړي او ستاسو
ټول روح، ځان او بدن دې زمونږ د څښتن عیسی مسیح د راتګ په وخت کې بې‌عیبه وساتي. ۲۴
خدای چې تاسو ځان ته رابللي یئ، د باور وړ دی او هغه به دا کار وکړي.

۲۵ ای خویندو او ورونو! زمونږ دپاره هم دعا وکړئ. ۲۶ ټولو ایماندارانو ته سلامونه ووایئ او
په پاکه مینه هغوی ښکل کړئ. ۲۷ زه تاسو ته د څښتن په نوم حکم کوم چې دا لیک ټولو خویندو
او ورونو ته ولولئ. ۲۸ په تاسو باندې دې زمونږ د څښتن عیسی مسیح فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.